AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۲/۰۳

# او بیادرا! پیسه مه بتی، مه صراف استم

له مولوي حسام الدين حسام دامت برکاته، سره مي خوندور بانډار وکړ. په پای کې مي ورته ویل:
که د ژونده تر ټولو جالبه خاطره دي راته بیان کړې. مبارک، سوړ آسویلی وکېښ او بیا یې وفرمایل:
په دې دارالفناء کې جالبیت له کومه سو؟ موږ خو ټول عمر ستاسو د دارالبقاء په تشویش کې یوو.
ما ویل: خپله ځانته د همدې دارالفناء اسباب برابروئ او زموږ د دارالبقاء په غم کې یاست؟

مبارک، نوکی غوسه شو:

دا د تاسو امیانو سوء ظن دی. کنه موږ د دې فاني دنیا په کیسه کې نه یوو.
ما ویل: و جنابه! راته معلوم یاست، چې ترڅو امکاناتو ته لاسرسی نه لرئ، د مال دولت قباحت بیانوئ او د قناعت فضایل خو چې د عاید مدارک په لاس درسي، بیا نو...

سړی غوسه سو:

زما له تحمل څني سوء استفاده مکوه، نه ښايي ځلورمي طبقي لره چې وکړي، زموږ مقابل کې دومره جرئت، بلکې گستاخي!
ژر غلی سوم. ما ویل کیسه خرابیږي، راځه بحث بدل کړه:
ښه، دا خبرې پرېږده، جالبه خاطره دي وایه.
مبارک، لنډه شیبه غلی و. بیا یې درې ځلي په کړس کړس وخندل.
حیران شوم؛ خو هغه خبره شروع کړه:
په یوه شرط یې درته وایم، چې چاته به یې نه وایې!
ما ویل: سمه ده وایم یې نه، فقط لیکم یې.
غاړه یې تازه کړه:
له فتحې وروسته لومړی پلا، کابل ته ولاړم. پل باغ عمومي یې بولي که چیشی بلا یې بولي، هلته چې و رسیدم، مابښام و. یو ځوان د سړک تر غاړې ولاړ و او د پیسو بنډل ور سره و. را ږغ یې کړ: حاجي صیب، افغاني، دالر، کلدار...
ځان سره مي ویل: لکه چې پلار یا مور یې مړه سوې او د روژې فدیه یې ور کوي. بیا مي ویل: یه، کیدای سي زکات یې را ویستلی وي او د دې لپاره چې ریاء کې حساب نسي، تیاره مابښام کې یې ویشي.

بنډل ته مي لاس کړ، خو عاطفه مي را وپارېده، ځان سره مي ویل: دې ښار کې له ما ډېر مستحقین او فقرا شته، زه باید ټولې پیسې وانخم. د زرګونو دوه نوټونه مي واخیستل او روان سوم.

دوه قدمه مي لا نه و اخیستي چې ځوان رامنده کړه.

ما ویل: فدیه، زکات قبول!

ځوان غوسه شو:

فدیه، زکات، عجب!

**او بیادرا! پیسه مه بتی، مه صراف استم.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ